د افغانستان اسلامي جمهوريت

د پوهنې وزارت

د ننګرهار ولايت د پوهنې رياست

د بهسودو د پوهنې آمريت

مقام خان لېسه

# د لسم ټولګي لپاره د کمپيوټر مضمون سوال او ځواب

Ketabton.com

ترتيب او برابرول : بهادرزمان (منيب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ کمپیوټر څه شی دی او له کومي کلیمي څخه اخیستل شوی دی؟
- ✓ کمپیوټر د compute له کلیمي څخه اخیستل شوی معنا یې شمېرنه ده،په اصطلاح کې هغه برېښنایيز ماشین دی چې پروګرام منونکی وي او منطیقي او ریاضي اجرآت ترسره کړي.
- ✓ کمپیوټر په ورځني ژوند کې څه رول لري؟ په لنډه توګه یې ولیکي؟
- ✓ نن ورځ کمپیوټر د ژوند په بیلابیلو اړخونو کې زیات رول لري،لکه روغتیا،پوهنه،تجارت،صنعت ،کورونو او داسي نور..
- ✓ په کور کې کمپیوټر د څه لپاره کارول کیږي؟
- ✓ نن ورځ زیات وګړي په کورونو کې هم کمپیوټر کاري،لکه د مالي چارو تنظیم ،انټرنیت استعمالو،لوبې کول،مطالبو لیکل،او داسي نور.
- ✓ په سوداګری او سوداګریز و مؤسسو کې د کمپیوټر د رول په اړه څو کرښې ولیکئ؟
- ✓ نن ورځ په سوداګری کې هم د کمپیوټر څخه استفاده کیږي لکه: د کمپنۍ سمبالښت،اړیکي ټینګول،انلاین د خپلو توکو او محصولاتو خرڅول او داسي نور..
- ✓ د هغه دوه ډوله کمپیوټري سیستمونو نوم واخلي چې په لویو مارکیټونو کې تری ګټه اخیستل کیږي؟
- ✓ د POS او EPOS سیستمونه دي چې په لویو مارکیټونوکي تری ګټه اخیستل کیږي.
- ✓ لېرې زده کړیز (Distance Learning) سیستم د زده کړې په بهیر کې کوم بدلونونه منځ ته راوړي دي؟
- ✓ لېرې زدکړیز سیستم د انټرنیټ له لارې په انلاین زده کړو کې اسانتیا رامنځ ته کړې،په ټوله نړۍ کې میلونونه زده کوونکي ددې سیستم له لارې په زده کړو بوخت دي.
- ✓ په روغتیايي سازمانونو کې له کمپیوټر څخه ګټه اخیستل څه ارزښت لري؟ توضیح یې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ نن کمپیوټر په روغتیايي مؤسسو کې هم په پراخه کچه استعماليږي لکه د ناروغانو د ځانګړتیاوو به ثبت،تشخيصي الاتو په کنټرول ،طبي څېړنو،انټرنېټ خدمات،حاضرئ کنټرولول او داسې نور..
- ✓ د کمپيوټر د خونديتوب په اړه څو کرښې وليکې؟
- ✓ د دولتونو او سازمانونو د قوانینو ترڅنګ باید هر کمپیوټر د امنیت د ساتلو لپاره له لاندې لارو څخه استفاده وکړي:

  اول: پاسورډ لګول دوهم: اور ديوال استعمالول. دريم: جاسوسی ضد سافټوير استعمالول. څلورم: ويروس ضد سافټويرونه انسټالول. پنځم:کمپيوټر خوندي ته پام کول.

- ✓ د کمپيوټري ګواښونو نومونه واخلئ؟
- ✓ ۱: د نورو د کمپيوټرونو حريم باندې يرغل. ۲: ورانوونکي پروګرامونه. ۳: ويروسونه.
- ✓ د کمپيوټري يرغلګرو په اړه لنډر توضيحات ورکړئ؟
- ✓ هغه کاروونکي چې د نورو د کمپيوټرونو حريم ته د خپلو مهارتونو په اساس ورننوځي او د هغوی معلومات غلا کوي کمپيوټري يرغل بلل کيږي.
- ✓ ورانوونکي پروګرامونه څرنګه پروګرامونه دي؟
- ✓ له هغو پروګرامونو څخه عبارت دي چې د کمپيوټر په حافظه کې ځای پر ځای کوي او په کمپيوټر کې د ټولو معلوماتو نظم له منځه وړي.
- ✓ کمپيوټري ويروس څه شی دی؟
- ✓ له هغو وړو پروګرامونو څخه عبارت دي چې ځانونه دنورو پروګرامونو پورې نښلوي او په کمپيوټر کې پراته معلومات زيانمن کوي او يا يې له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ و پروسونه په کمپیوټرونو کې کومې ورانۍ رامنځ ته کوي؟ د دا ډول څو وراتیو نومونه واخلئ؟
- ✓ ۱: عامل سیستم فلج کول. ۲: له ډریوونو معلومات حذف کول. ۳: د فایلونو نوم بدلول.
  ۴: هارډویر غیر معمول کارول. ۵: سیستم په خپل سر بندېدل او چالانېدل.
- ✓ د کمپیوټر د نامناسبې کارونې په پایله کې د جسمي او رواني عوارضو په اړه لنډي توضیحات ورکړئ؟
- ✓ که کمپیوټر له حده ډېر وکارول شي جسمي او روحي نارغۍ رامنځ ته کوي،لکه عصبي فشار،هډوکو درد،د عضلاتو درد او داسي نور.
- ✓ په کمپیوټر کې زېرمه څه ارزښت لري؟
- ✓ زېرمه د کمپیوټر د مهموبرخو څخه ګڼل کیږي،د اطلاعاتو،ډیټا ،پروګرامونو او لابنوونو د زېرمه کولو لپاره استعمالیږي.
- ✓ آیا د اصلي زېرمي د نشتوالي په صورت کې کمپیوټر د معلوماتو د پروسس کولو وړتیا لري؟
- ✓ د اصلي زېرمي د نشتوالي په صورت کې د معلوماتو د پروسس وړتیا نه لري.
- ✓ اصلي زېرمه په څو ډوله ده او توپیر یې په څه کې د دی؟ توضیح یې کړی.
- ✓ دوه ډوله ده: ۱ـ Ram ۲ : Rom فرق یې دا دی چې رم معلومات په موقتي ډول ذخیره کوي د برښنا د پرې کېدو سره له منځه ځي خو روم بیا ددې خلاف دی معلومات د برښنا د پرې کېدو په صورت کې له منځه نه ځي.
- ✓ مرستندویه حافظه څرنګه حافظه ده؟ په لنډه توګه یې شرحه کړئ.
- ✓ داسې حافظه ده چې معلومات پکې په دایمي ډول زېرمه کیږي لکه فلش،هادرډیسک،سي ډي او داسي نور...
- ✓ د اصلي او مرستندویه زېرمي تر منځ توپیر څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ په اصلي زېرمه کې معلومات د تغیر وړ نه دی خو په مرستندویه زېرمه کې معلومات د تغیر وړ دي.
- ✓ د اصلي زېرمې په شتون کې ولې له مرستندویه زېرمې څخه کار اخلو؟
- ✓ ځکه اصلي زېرمې حجم کم وی ظرفیت زیات نه لري خو د مرستندویه زېرمې چکتیا کمه وي خو حجم یې زیات وي.
- ✓ څو ډوله مرستندویه زېرمه پېژنی؟ نومونه یې واخلئ.
- ✓ ۱: سي ډي ۲: فلاپي ډیسک ۳: هارډ ډسک ۴: فلش.
- ✓ مرکزي پروسس کوونکی (CPU) څه شی ده؟
- ✓ مرکزي پروسس کوونکی واحد د معلوماتو د پروسس اصلي چاره په غاړه لري ،د کمپیوټر مغز ګڼل کیږي.
- ✓ مرکزي پروسس کوونکی د کومو واحدونو درلودونکی دی؟
- ✓ د محاسبې او منطق، او کنټرول واحدونو درلودونکی دی.
- ✓ مرکزي پروسس کوونکی په کمپیوټر کې څه اهمیت لري؟
- ✓ مرکزي پروسس کوونکی زیات اهمیت لري که چیرې دا واحد موجود نه وی کمپیوټر پروسس نه شي کولای.
- ✓ د Start مینو په کمپیوټر کې څه رول لري؟
- ✓ د سټارټ مینو په مرسته موږ کولای شو دېرې چارې په اسانی سره ترسره کړو،لکه کمپیوټر بندول او چالانول،ټول پروګرامونه خلاصول،او داسې نور..
- ✓ د Start مینو د انتخابونو (option) نومونه واخلئ.
- ✓ All programs , My documents,My computer,control panel او داسې نور...
- ✓ په Start مینو کې د Search او Run دندې بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ Search د لټون او د یو څه د لټولو لپاره استعماليږي، Run بیا د پروګرامونو د خلاصولو لپاره کارول کيږي.
- ✓ اکونټ څه شی دی؟
- ✓ هغه حساب ته ویل کیږی چي دهغي په واسطه کمپيوټر ته ننوځو.
- ✓ اکونټ په څو برخو ویشل شوی دی؟ نومونه يي واخلئ.
- ✓ په دري دوله ویشل شوي دي:

۱: Administrator Account (مدیریت حساب)

۲: میلمه حساب (Guest Account)

۳: محدود حساب (Limited Account)

- ✓ د مدیریت اکونټ (Administrator) او محدود اکونټ ترمنځ څه توپير دی؟
- ✓ مدیریت اکونټ کولای شي سافټویرونه انسټال کړي او نور اساسي تغيرات په کمپیوټر کې راولي خو محدود اکونټ یواځې خپل پاسورډ بدلولای شي نور هيڅ نه شي کولای.
- ✓ د فارمټ مینو د ورډ پروګرام په کومه پټه کې موقعیت لري؟
- ✓ د وسایلو په پټه کې موقیعت لري.
- ✓ له فارمټ مینو څخه په کومو ځایونو کې ګټه اخيستل کيږي؟
- ✓ د فونټونو د تغیر،رنګونو تغير،لیک اندازه او نورو ځایونو کې استعماليږي.
- ✓ خط کش په ورډ پروګرام کې څه ارزښت لري؟
- ✓ د ورډ پروګرام د اسنادو د چټک فارمټ لپاره استعماليږي ، پاڼي د اندازه کولو لپاره هم استعماليږي.
- ✓ د یوه متن د انتخابولو دوې بېلې لارې وواياست؟
- ✓ ۱: د شارټ کټ له لاري(shift+arrow keys) ۲: د موس د کرسر له لاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ د متن د کاپي کولو بېلا بېلو لارو نومونه واخلي؟
- ✓ شارکټ له لارې (ctrl+c) او د فارمټ مينو له لارې.
- ✓ د past او past spacial ترمنځ څه توپير دی؟
- ✓ Past او past spacial سره ورته دندې لري کله چې متن کاپي شي په کليپ بورډ کې ساتل کيږی موقت وخت لپاره پيسټ هر څه د اصلي په څېر راوړي خو پيسټ سپيشل بيا ځيني ځانګړی افشنونه لري.
- ✓ د کاپي او Cut ترمنځ توپير څه شی دی؟
- ✓ کاپي کولو سره فايل په اصل ځای کې پاتي کيږی خو د کټ سره متن د اصلي ځای څخه ختميږي.
- ✓ Office Clipboard څه شی دی؟
- ✓ کليپبورډ کاپي يا کټ متن د مؤقت وخت لپاره ساتي.
- ✓ په فارمټ مينو کې د دريو مهمو کمانډونو نومونه واخلئ؟
- ✓ بولډ،ايټاليک،انډرلين او داسي نور..
- ✓ د ليک د ډول، د ليک د سبک، د ليک د رنګ د ټاکلو د بېلابېلو لارو نومونه واخلي.
- ✓ Fonts,Font color,text highlight color
- ✓ د ليک د پنډولو لپاره له کوم کمانډ څخه کار اخلو؟
- ✓ له بولډ کمانډ څخه (ctrl+B)
- ✓ متن څرنګه متمايل کوئ؟
- ✓ تر متن لاندي د کرښي د کښلو لپاره له کوم کماني څخه ګټه اخلو؟
- ✓ له Underline کمانډ څخه.
- ✓ انټرنيټ څه شی دی؟ د هغه يو غوره والی بيان کړئ؟
- ✓ انټرنيټ په نړی کې د کمپيوټرونو ترټولو لويه شبکه ده چې په ميلونونو کمپيوټرونه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره نښلولي دي.

- ✓ انټرنېټ په نني ژوند کې څه ارزښت لري؟
- ✓ انټرنیټ ټوله نړۍ د یو کلي په څېر کړې ده په نني ژوند کې انټرنېټ د خپل ارزښت له مخې ډېر مهم رول لوبوي.
- ✓ وېب یا WWW تعریف کړئ؟
- ✓ نړیوال ویب یا جال world wide web د برښنایزو اسنادو یوه ټولګه ده چې د غنې د جال په څېر یو بل پسې نښتي دي،دغه اسناد په قوي کمپیوټرونو کې ساتل کیږي چې سرور ورته وایي.
- ✓ له انټرنېټ سره د نښلېدو د اړینو وسایلو نومونه واخلئ؟
- ✓ ۱: د موډیم له لارې که internal وی او که External ۲: UTP ډوله کیبل، ۳: او د شبکې د کارډ له لارې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**